سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۲ / ۰۴ / ۱۰

# ستراتیژیک تړون پرسر، د زرګري جګړې پای

د افغانستان او امریکا تر منځ د شپني عملیاتو په اړه د هوکړه لیک په لاسلیک سره، هغه زرګري جګړه [۱] چې د دواړو هیوادو ترمنځ د ستراتیژیک تړون پر سر له څه مهال راهیسې راولاړه شوي وه ، نوره پایته رسیدلې ښکاري .

دا هوکړه لیک د اپریل په ۸ مه، د بهرنیو چارو په وزارت کې د هیواد د دفاع  وزیر رحیم وردګ او په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان جنرال الن لاسلیک کړ.

ددې هوکړه لیک په پلیتابه سره به د ولسمشر کرزي د دفتر د وینا له مخې « ځانګړي عملیات د افغان ځواکونو له لوري د متحده ایالاتو د ځانګړو عملیاتي ځواکونو په ملاتړ د افغانستان له قوانینو سره سم ترسره کیږي.»

د ستراتیژیک تړون پر سر بله لانجه ، افغان لوري ته د باګرام زندان سپارل، لا مخکې تېرکال د کب میاشتې په ۱۹ مه د یوه هوکړه لیک په لاسلیک سره حل شوې وه . ددې زندان چارې به د هوکړه لیک له پیل څخه په ۶ میاشتو کې دننه افغان لوري ته سپارل کیږي. له هوکړه لیک روسته، د افغانستان د جمهوري ریاست په یوه خبرپاڼه کې ویل شوي و « ولسمشر حامد کرزي جنرال غلام فاروق بارکزی **د** نظامي پولیسو د لوی قوماندان او د بګرام او نورو توقیف ځایونو د لېږد مسؤول په توګه د ډګر جنرال په بست کې وټاکه او نوموړي د هېواد له ولسمشر سره تر کتنې وروسته په رسمي ډول په کار پیل وکړ. تاند »

بلخوا دودیزې لویې جرګې هم « د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، اسلامي او افغاني ارزښتونو ته درناوي او د شپې لخوا د خلکو د کورونو د تلاشیو او عملیاتو د بندولو په شرط له امریکا سره د ستراتیژیک تړون ملاتړ کړی و. »

په دې ډول، پخوا چې افغان حکومت د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیک تړون پر سر په دغو دوو شرطونو ټینګار کاوه، نورهغه شرطونه له منځه تللي دي . ښايي امریکا سره دا تړون د شیکاګو کنفرانس په مهال او یا له هغې مخکې لاسلیک شي . داسې ستراتیژیک تړونونه لا وړاندې هندوستان، ایټالیا، فرانسې او انګلیستان سره لاسلیک شوي دي . ویل کیږي استرالیا، اروپا او جرمني سره به هم ورته تړونونه لاسلیک شي. ددې ستراتیژیکو تړونونو په لاسلیک سره ، د افغانستان راتلونکی لوری چې هغه لویدیځ سره دوستې او انډیوالي ده، انځور شوی دی .

د ډیرو په اند دواړه شرطونه چې اوس حل شوي دي، هم د افغان او هم د امریکا له لوري له حده زیات پرسېدلي او غټ ځلول شوي وو . د باګرام زندان او یا شپني عملیات د افغانستان اصلي ستونزه نه وه او نه ده بلکې د ستونزې او کړکېچ یوه کوچنۍ برخه ده. ستونزه او کړکېچ چې د باګرام زندان او شپني عملیات د هغې په چورلیځ راڅرخي اوس هم پرځای پاتې دي او د حل اساسي لارې چارې غواړي . که د افغانستان په وړاندې د جګړې مجرمین د افغانستان لخوا هم مجازات شي ترڅو چې خپله ستونزه حل نه شي بیا به هم د باګرام او یا بل زندان دالانونه له بندیانو ډک وي. که ترهګر په شپه ونه ټکول شي بیا به هم تر څو چې له بهره هیواد ته راواوړي، په سپینه ورځ ټکولو او منځه وړلو ته اړتیا ولري.

شپني عملیات او یا ورځني عملیات د ماهیت له مخې هیڅ توپیر نلري. دوښمن باید په شپې هم کهول او هیواد ته پرینښودل شي او د ورځې هم. داسې عملیات د شپې هم پکار دي او د ورځې هم . په دې برخه کې ستونزه دا وه چې افغان ځواکونو، نه په زندانونو کې د جنګي مجرمینو د ساتلو او نه یې د ترهګرو په ټکولو کې په خپلواکه توګه او یوازې ځان، وړتیا درلوده. ددې وړتیا په زیاتېدو سره باید افغان ځواکونه، نه یوازې په یاد شویو برخو بلکې د هیواد ټولې چارې یو په بل پسې په خپلواسو کې واخلي . ستونزه د افغانانو په وړتیا او پیاوړتیا پورې تړلې ده. که افغانان په نورو برخو کې هم وړتیا ونه لري، چارې به یې نور ملکونه پرمخ وړي . اداري فساد هم دغسې درواخله. دا ستونزه هم تر ډېره حده افغانانو خپله زیږولې ده اوحل یې هم په افغانانو پورې اړه لري.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خو اصلي شخړه او کړکیچ  اوس هم چې مخکې ورته اشاره وشوه پخپل ځای پاتې دي او مونډيز حل ته اړتيا لري . ترهګر اوس هم په پاکستان او ایران کې د روزنې او پالنې اډې لري. له روزنې روسته ترهګر له همدغو اډو څخه افغانستان ته رااوړي او دلته په منظمه او سازمان شوې بڼه ورانی او ویجاړی کوي او ځانمرګي بريدونه سرته رسوي.

وګوری اوس چې د شپې عمليات افغاني ځواکونو ته وسپارل شول چې يوخوا د سيمو د وګړو غوښتنه وه او بلخوا د طالبانو او ګاونډيانو پلمه وه او ويل به يې، لويديځوال ولي افغاني کورنی تالاشي کوي، بيا هم د داسې ګټورې چارې په وړاندې، طالبانو منفي غبرګون وښود. طالبان وايي « د افغان حکومت او امريکا ترمنځ د شپې د عملياتو نوی تړون په کلکه غندي. د ذبيح الله مجاهد له خوا لراوبر ته رسيدلي پاڼه وايي د افغان حکومت او امريکا ترمنځ د شپې د عملياتو نوی تړون پر طالبانو څکه تاثير نه کوي چې د دوی جنګيالي د شپې له خوا په بستر کي نه بلکي په سنګر کي وي. خبرپاڼه وايي د دې تړون موخه يوازې د ملکي افغانانو ځورولو ته قانوني رنګ ورکول دي.

د طالبانو له خوا خپره سوې خبرپاڼه د تېرو دوو کالو د نورو خبرپاڼو خلاف په خورا سختو الفاظو ليکل سوې ده. »

د طالبانو دا غږ په حقيقت کې د پاکستان او ایران غږ دی. سبا به د طالبانو په پل، پاکستان او ایران کې نور تونددلاري او هلته په دولتونو کې ځواکمنې کړی ، د غندنې همداشان غږ پورته کړي.

د ستراتيژيک تړون د لاسليک په مهال باید اوس د ستونزې اساسي حل ته پاملرنه وشي. په تړون کې بايد داسې ټکي درج شي چې د افغانستان ځمکنی بشپړتيا او ملي واکمني ته د ګواښ په وخت، د تړون مقابل لوری چې امريکا ده د افغانستان مرستې ته راودانګي . که د ایران او پاکستان له لوري افغانستان تل له ګواښ سره مخامخ وي او افغانان د پخوا پشان د دغو سرابنو ګاونډيانو لخوا کړيږي، افغانان به داسې ستراتيژيک تړون څه کړي ؟ که بيا هم د ګاونډيانو له لورې جوړې جوپې ترهګر افغانستان ته رااستول کيږي او دلته افغانانو ته د ژوند نښه او اثار نه پريږدي ، داسې دوستي د افغانانو کوم درد دوا کولای شي ؟

همداراز د افغانستان او پاکستان ترمنځ لويه ستونزه د ډيورند تپلې کرښه ده او په سيمه کې روان کړکيچ ټول د همدې کرښې پر چورليځ راڅرخي . پنجاب افغانستان سره د همدې کرښې د عادلانه حل د مخنيوي په غرض، د سيمې او نړۍ ترهګر رابللې او هغو ته يې په پاکستان کې د روزنې او پالنې اډې جوړې کړي چې افغانستان کې جګړې توده وساتي او افغان دولت پښې لګېدو ته پرينږدي. خو افغانان په تېرو ۶۰ کلونو کې د دې ملي داعيې او پاکستان سره د نورو شخړو د حل لپاره په لومړي ځل د داسې نړيوالو دوستانو او هغو سره د تړونونو په لاسليک سره، مساعد چاپيريال او امکانات محسوسوي. په دې توګه د ستراتيژيکو تړونونو په لاسليک کې په تېره بيا د امريکا او انګريز سره، د افغانستان په ګټه ددې ستونزې د حل يوه عادلانه حل لار پکار ده. بيا هم په افغاني مشرتوب پورې اړه لري چې د خپلو تاريخي غوښتنو د پلیتابه لپاره له داسې ګټورو حالاتو څخه څرنګه ګټه پورته کولا شي.

بلخوا د سيمې ټول هيوادونه ، که هغه پاکستان ، ايران، هند، چين او روسيه ده لا مخکې په  اتومي وسلو سمبال شوي او افغانستان له هرې خوا د ليوانو منځ کې ښکېل دي. همدغه ليوان په تېره بيا پاکستان او ايران د څو لسيزو راهيسې افغانان پرله پسې داړي او په غوښو او وينو يې نه مړيږي!

د ستراتيژيک تړونونو موخه بايد دا وي چې د هغو په مټ افغانستان په سيمه کې په يوه غښتلي او پياوړي هيواد بدل شي او د ګاونډيانو له تيری څخه چې د ترهګرو په بڼه ترسره کيږي، ژغورنګ پيداکړي .

پای

**یادونه :**

( ۱ ) **زرګري جګړه :** د دوه یا څو لورو لخوا چې ګډې ګټې لري، ظاهرې لانجه او شخړه چې د وګړو د تيرويستلو په موخه ترسره کيږي .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ